# د حسین شهادت: یوه مطالعه

(مولانا وحیدالدین خان)

ژباړه: رحمت شاه فراز

حسن او حسین، په اسلامي تاریخ کې د دوو مختلفو کړنلارو سمبولونه دي. حسین د سیاسي کړنلارې سمبول دی او حسن د غیرسیاسي کړنلارې. امام حسین د وخت له مسلمانو واکمنو سره نښته وکړه او د یوه سیاسي هدف د ترلاسي هڅه یې وکړه، همدا هدف امام حسن د نښتې له ډګر نه د ستنېدو له لارې حاصل کړ. سره له دې چې د امام حسین کردار دومره مشهور شو چې هر سړی ورسره اشنا دی، خو د امام حسن له کردار سره، د هغه په ټولو عظمتونو سربېره، ډېر کم خلك اشنا دي. او له هغه نه هم ډېر کم خلك هغه دي چې د دې ستر کردار په اهمیت پوهېږي.

د امام حسین بن علي (٦١- ۴هـ) اغېزه په راوروسته اسلامي تاریخ دومره پراخه ده چې نوموړی، لږ تر لږه له عملي پلوه، د اسلامي تاریخ تر ټولو لوی سمبول ګرځېدلی دی. مسلمانان چې هر کال په کوم غور و پور د «۱۰ محرم» ورځ نمانځي، د بلې هېڅ ورځې کلیزه هم په هغه ډول نه نمانځي. حتی شاید «دوولسم ربیع الاول» هم نه. د عمومي تصور له مخې د اسلام روح دا دی چې بنده د ناحق په وړاندې سر ټیټ نه کړي. ان که په دې لاره کې په جګړه کې خپل ژوند هم له لاسه ورکوي. د خلکو په نزد، د همدې نوم شهادت دی. دا شهادت په خپل

تر ټولو اعلی شکل کې د امام حسین په ژوند کې تمثیل شوی دی. د عام روایت له مخې، له امام حسین سره ټول ۷۲ تنه وو. په مقابل لوري کې د جګړې لپاره د شپږو زرو جنګیالیو لښکر له ټول ساز او سامان سره موجود و. خو امام حسین د ظالم واکمن په وړاندې ټیټ نه شو او په جګړه کې یې خپل ژوند له لاسه ورکړ:

**سر داد مگر نداد دست در دست یزید**

عجیبه خبره ده چې د اسلامي تاریخ دغه تر ټولو ډېره مشهوره خبره نه له اسلام سره سمون خوري او نه پخپله له تاریخي پېښو سره. اسلام او تاریخ دواړه د دغه انځور له منلو انکار کوي.

### پېښې څه وايي؟

اوس وګورئ چې اصل تاریخي تصویر څه دی. په مکه کې د قریشو د قبیلې (بنو عبدمناف) دوه لوی ښاخونه وو. یو بنو هاشم. بل بنو امیه. په دواړو ښاخونو کې له پخوا زمانې نه خانداني سیالۍ راروانه وه. په بنوهاشم کې چې پیغمبر وزېږېد، نو هاشمیانو کې خو یوازې یو شخص (عبدالعزی) د پیغمبر دښمن شو. خو د اموي کورنۍ خلک بالعموم له هغه سره مخالف شول. خو د هغوی مخالفت بریالی نه شو. د مکې له فتحې (۸ هـ) وروسته د عربو د نورو قبایلو په څېر، بنو امیه هم اسلام ته داخل شول او د نبوت او وروسته د راشده خلافت په زمانه کې د دې کورنۍ تکړه وګړو راز، راز اسلامي دندې ترلاسه کړې. دریم خلیفه عثمان بن عفان چې په اموي کورنۍ پورې یې تعلق درلود، د

هغه په زمانه کې (۳۵- ۲۴هـ) کې د بنو امیه اثر او رسوخ ډېر زیات شو. له هغه وروسته چې علي بن ابي طالب وټاکل شو، چې لومړی هاشمي خلیفه و، نو د بنو امیه رقابت راوپارېده. د عثمان د خون مسئلې له دوی سره مرسته وکړه او هغوی له څلورم خلیفه سره له بیعت کولو نه انکار وکړ. د حضرت علي د خلافت ټوله زمانه (۴۰- ۳۵هـ) په خپلمنځي کورنۍ جګړو کې تېره شوه. تر دې چې د یوه جنوني مسلمان په لاسونو نوموړی شهید کړای شو.

له علي بن ابي طالب وروسته د هغه له صاحبزاده حسن بن علي سره د خلافت بیعت وشو. د دې پېښې صورتحال داسې دی چې یوازې د عراق او خراسان (ایران) خلافت د امام حسن په برخه ورسېد. نور ټول هېوادونه، یمن، حجاز، شام، فلسطین، مصر او داسې نور د معاویه بن ابي سفیان اموي په ولکه کې وو چې د علي په لاس یې د خلافت بیعت نه و کړی او اوس یې د حسن د خلافت له منلو هم انکار کړی و. په ربیع الاول ۴۱هـ کې خبره دې حد ته ورسېده چې یوه خوا له امام حسن سره له څلوېښت زره نه ډېر وسله‌وال جنګیالي وو چې په مرګ یې بیعت کړی و. په بله خوا کې د امیر معاویه تر بیرغ لاندې د شپېتو زرو لښکر د مرګ و میر لپاره لاس په توره ولاړ و. امام حسن فکر وکړ چې زما د پلار د پنځه کلن خلافت په زمانه کې مسلمانان د خپلو ورونو په لاسونو ذبحه کېدل. که اوس زه په خلافت ټینګار وکړم، نو عملاً به له دې پرته نور هېڅ هم ونه شي چې دغه خپلمنځي وینه او

وژنه به تر نامعلومې مودې پورې دوام وکړي. سره له دې چې امام حسن په حق و او همااغه د اسلامي هېوادونو مشروع خليفه و. خو دې ته په کتو چې مقابل لوری نه په شا کېږي، نو پخپله د جګړې له میدان نه په شا شو او د خلافت مقام يې امير معاويه ته وسپاره.

له دې نه وروسته شل کاله (۶۰-۴۱هـ) ارامه ارامي وه. اسلامي ځواکونو د خپلمنځي جګړو په ځای د اسلامي قلمرو په پراختيا لاسونه پورې کړل. د امير معاويه له مړينې (رجب ۶۰هـ) وروسته د خلافت مسئله يو ځل بيا راژوندۍ شوه. امام حسين، چې له خپل ورور نه په دې خبره خوشاله نه و چې له خلافت نه تېر شوی و، د امير معاويه د زوی يزيد بن معاويه (۶۴- ۲۵هـ) د خلافت له منلو انکار وکړ، هغسې چې مخکې معاويه بن ابي سفيان د هغه د پلار علي بن ابي طالب د خلافت له منلو انکار کړی و. له همدې ځايه د امام حسين بن علي (۶۱-۴هـ) هغه کردار پيلېږي چې په ياد کې يې هر کال لسم د محرم نمانځل کېږي.

تاريخ راته وايي چې يزيد بن معاويه د دمشق د خلافت په ګدۍ باندې له ناستې وروسته خپل د مدينې والي عتبه بن ابي سفيان ته وليکل چې له خلکو نه زما په نوم بيعت واخله. وليد چې خلک راټول کړل نو امام حسين سمدستي له بيعت کولو نه عذر وړاندې کړ. بله ورځ يې په پټه خوله له خپلو بچو او عياله سره له مدينې نه مکې ته مخه کړه. خو مکه هم ورته د سکون ځای نه شو. ځکه د مکې خلکو

د عبدالله بن زبیر په لاس بیعت کړی و. دا وضعیت په امام حسین دومره گران تمام شو چې ده او کورنۍ به یې په مکه کې په عبدالله بن زبیر پسې لمونځ نه کاوه چې عملاً په هغه وخت کې د مکې حاکم و.

د عثمان د قتل مسئلې مکه او مدینه د څلورم خلیفه علي بن ابي طالب لپاره نامساعد ښارونه گرځولي وو. همدا وه چې هغه مدینه پرېښوده او په کوفه (عراق) کې یې استوگنه غوره کړه. په دې ډول د اسلام پلازمېنه په **۳۶**هـ کې له مدینې نه کوفې ته ولېږدول شوه.

امام حسن له خلافت نه له تېرېدو (۴۱هـ) وروسته د کوفې استوگنه پرېښوده او خپل پخواني وطن (مدینې) ته راستون شو. د کوفیانو د مزاج په باره کې د عربو شاعر، فرزدق ډېر سم امام حسین ته ویلي و چې «د کوفې د وگړو زړونه له تاسې سره دي، خو د هغوی تورې ستاسې په ملاتړ کې له تیکې نه شي راوتلای.» یزید ته چې کله د خلافت مقام ورسېد، نو د کوفیانو په زړه کې د اهلِ بیت مینه په جوش راغله. هغوی امام حسین ته خطونو لیکل پیل کړل چې تاسې کوفې ته راشئ. موږ ټول به ستاسې په لاس بیعت وکړو. دغه ډول تقریباً یو نیم سل لیکونه له کوفې نه مکې ته راغلل.

امام حسن د وضعیت نازکي ډېره ښه درک کړې وه. هغه خپل کشري ورور حسین ته وصیت کړی و چې ته هېڅ کله هم د کوفیانو په خبره مه غولېږه. زه ښه پوه شوی یم چې نبوت او خلافت دواړه زموږ په کورنۍ کې نه شي یو ځای کېدی. د همدې لپاره ستا په حق کې بهتره

همدا ده چې په دې برخه کې غلی اوسې. خو د امام حسین مېړنی طبیعت په دغه ډول مشوره نه شو قانع کېدلی. هغه کوفې ته د تلو اراده وکړه. او خپل د تره زوی مسلم بن عقیل بن ابي طالب یې راوغوښت او ورته ویې ویل چې ته لومړی کوفې ته لاړ شه او هلته په پټه زما لپاره بیعت واخله. زه به هم ژر پسې در ورسېږم. مسلم بن عقیل له دې طرحې سره جوړ نه و. خو د امام حسین په ټینګار نوموړی کوفې ته روان شو.

مسلم بن عقیل چې کله د امام حسین د استازي په حیث کوفې ته ورسېد، نو ډېرو خلکو یې ښه تود هرکلی وکړ. ویل کېږي چې شاوخوا ۱۸زره کسانو نیابتاً د هغه په لاس بیعت وکړ. یزید چې کله خبر شو، نو هغه عبیدالله بن زیاد د کوفیانو د ځپلو لپاره وګماره. عبیدالله بن زیاد له بصرې نه کوفې ته ورسېد، خلک یې راټول کړل او سخت یې وځنډل. بیا یې مسلم بن عقیل او د هغه کوفي کوربه هاني بن عروه د خپلې ماڼۍ په بام ودرول او قتل یې کړل. د هغوی سرونه او وینلړلي جسمونه د هوا په څپو کې را والوتل او د خلکو په وړاندې په مځکه وغورځېدل. دا د دې خبرې اعلان و چې له امام حسین سره له ملګرتیا کولو نه مخکې باید خلک فکر وکړي چې انجام به یې څه وي. بس ټول خلک غلي شول او په خپلو کورنو کې کېناستل.

په مکه کې امام حسین له دې ټولو پېښو ناخبره، کوفې ته د تګ تابیا نیوله. عبدالله بن عمر، عبدالله بن عباس، عمرو بن سعد بن العاص،

عبدالرحمن بن حارث او د مکې نورو مشرانو امام حسین ډېر په شدت منع کړ. عبدالله بن زبیر وویل چې تاسې کوفې ته د تلو په ځای د مکې حکومت قبول کړئ. لاس راوړاندې کړئ. له ټولو دمخه زه له تاسې سره بیعت کوم. خو نوموړی په هېڅ ډول رضا نه شو. عبدالله بن جعفر بن ابي طالب له مدینې نه خط ورته واستوه او په ټینګار یې منع کړ. خو امام حسین ونه منله. حتی د عبدالله بن عباس د دې وروستۍ خبرې له منلو یې هم انکار وکړ چې ښځې او ماشومان په مکه کې پرېږدئ او تاسې سفر وکړئ یا لږ تر لږه له حج نه وروسته روان شئ چې یوازې څو ورځې ورته پاتې دي.

امام حسین د ذوالحجې ۶۰هـ په لومړۍ اوونۍ کې کوفې ته روان شو، په لاره کې یې له عبدالله بن مطیع سره ملاقات وشو. هغه امام حسین ته وویل «زه قسم درکوم چې بېرته مدینې ته ستانه شئ. که تاسې له بنو امیه نه د خلافت د اخیستو هڅه وکړئ، نو هغوی به مو خامخا ووژني. او بیا به هر هاشمي، د هر عرب او هر مسلمان په وژلو باندې زړور شي.» خو د امام حسین د مېړني طبیعت لپاره هېڅ شی هم خنډ ونه ګرځېدل. یزید بن معاویه او د هغه د عراق والي عبیدالله بن زیاد ته ټول خبرونه رسېدل. هغوی شپږ زره پوځ په بېلا بېلو ځایونو کې ځای په ځای کړ چې امام حسین کوفې ښار ته ننوتو ته پرې نه ږدي. له امام حسین سره په ابتدا کې څو سوه کسان وو. کله چې هغوی د یزید د پوځ له فعالیتونو نه خبر شول، نو خلک ترې کمېدل تر دې چې

د کربلا میدان ته تر رسېدو پورې یې د قافلې شمېر دوه اویا تنه پاتې شو، چې یوازې د خپلې کورنۍ او قبیلې خلك یې وو.

خو په وروستي وخت کې امام حسین ته ټول وضعیت څرګند شو. د مسلم بن عقیل وژنه، د کوفیانو بې وفایي او د یزید د زبردست لښکر په مقابل کې د ده وړه قافله، دې شیانو د ده د بریا امکان ته د پای ټکی ایښی و. امام حسین پوه شو چې د نښتې یوازنی مطلب مرګ دی. امام حسین خورا شریف او زړور انسان و. جګړې یا مرګ وېرولی نه شوی. خو د خپلو ملګرو او په تېره ښځو او بچو لپاره په خپل زړه کې د مهربانۍ د احساس د راټوکېدو مخه نیول د ده لپاره ممکن نه و. همدا ده چې تاریخ وایي چې په وروستي وخت کې له یزید سره سولې کولو ته راضي شو. هغه د یزید والي عبید الله بن زیاد مخې ته درې وړاندیزونه کېښودل چې:

۱- زه بېرته مکې ته ستون شم او هلته په پټه خوله د خدای په عبادت کې مشغول شم.

۲- پرې مې ږدئ چې کوم سرحد ته ووځم او له کفارو سره جهاد کې شهید شم.

۳- د یزید په لاس بیعت وکړم. (**اما ان اضع یدی في ید یزید، الطبری، جلد ۴، صفحه ۳۱۳**)

د امام حسین په رویه کې له دې تبدیلي نه د یزید د پوځ خلك ډېر زیات خوشاله شوو. سره له دې چې دواړو د کربلا په میدان کې د یو

بل په خلاف صفونه تړلي وو. خو په دې سربېره، د «نواسه رسول» د احترام دا حال و چې دواړو خواوو به په ګډه لمونځونه کول او زياتره وختونه به حسين د خلکو امام و. عبيدالله بن زياد ته چې د امام حسين پيغام ورسېد نو هغه هم ډېر زيات خوشاله شو چې له جنګ و جګړې پرته به مسئله ختمه شي او امام حسين به د يزيد په لاس بيعت وکړي. خو د عبيدالله بن زياد يو مشاور شمر ذي الجوشن، چې ډېر د بېکاره طبيعت سړی و، هغه په همدې شېبه کې د عبيدالله بن زياد ذهن واړاوه. هغه پوه کړ چې د امام حسين مسئلې ته په نهايي ډول د پای ټکي ايښودو له دې نه بهتره موقع به بيا پيدا نه شي. د عبيدالله بن زياد په امر د هغه پوځونو د امام حسين په مخ د ستنېدو ټولې لارې وتړلې. هغه چې هر لوري ته ستنېدل غوښتل، په هماغه لوري کې به پوځ د هغه په لاره کې ولاړ و.

په ۱۰ محرم ٦١هـ د يزيد د پوځونو له لوري بريد پيل شو. د امام حسين قافلې په خورا زړورتيا مقابله وکړه. ټول خلك ووژل شوو او په پای کې له ښځو او ماشومانو علاوه، يوازې امام حسين پاتې شو. د دې وجه دا وه چې د يزيد د پوځ هر سړي په هغه باندې له وار کولو نه ځان تېراوه او بله خوا به يې ونيوله. په پای کې هماغه شمر ذي الجوشن راوړاندې شو چې عبدالله بن زياد يې د حسين په خلاف جګړې ته لمسولی و. هغه څو تنه ورسره کړل او په دې زړور انسان يې قاتلانه بريد وکړ او کار يې ورته تمام کړ. په دې کې يو دا ټکی اضافه

کړئ چې شمر ذي الجوشن د امام حسین د ترور مېړه او عمرو بن سعد، چې د امام حسین د قافلې په لور یې لومړی غشی وار کړ، د امام حسین ماما و.

د امام حسین د پېښې دغه تصویر چې په طبري او د تاریخ په نورو تاریخونو کې په لاس راځي، هغه له هغه تصویر نه کافي مختلف دی چې زموږ شاعران او خطیبان او لیکوال یې په پرجوشه الفاظو کې وړاندې کوي. حقیقت دا دی چې د امام حسین سیاسي اقدام تر ډېره د شخصي مېړانې له مخې پېښ شوی اقدام و. هغه وخت چې کوم صحابه کرام ژوندي وو، هغه ټول په دې مسئله کې له ده سره خلاف وو. د مکې او مدینې لویانو دی له دې اقدام نه راګرځاوه، حتی خپل خپلوان یې هم په دې معامله کې ورسره یوه خوله نه وو. خو په دې سربېره د ده د مېړنې طبیعت لپاره هېڅ هم خنډ نه شول. خو په وروستیو ورځو کې یې د مسئلې په نزاکت سر خلاص شو او هماغه رایې ته ورسېد چې د هغه مشر ورور امام حسن د خپلې دوراندېشۍ له برکته ۲۰ کاله دمخه رسېدلی و. یزید بن معاویه چې په خپله پلازمېنه (دمشق) کې مېشت و، که هغه پخپله د کربلا (عراق) په میدان کې له خپلو پوځونو سره موجود وای او د حسین او یزید په منځ کې مخامخ مکالمه شوې وای، نو په دې کې یوه ذره هم شک نشته چې د امام حسین په وروستي شرط به راضي شوی و——— یزید د هغه امام حسین دښمن و چې د ده سیاسي مخالف و. د خلافت له بیعت

وروسته به امام حسین د هغه لپاره «نواسه رسول» و او هغه به يې په عزت او احترام خپل وطن ته ستون کړی و. خو يزيد د امام حسين له سوله‌ییز وړاندیز نه هغه وخت خبر شو چې سر يې له تنې نه جدا شوی و.

## د سياسي مخالف مسئله

امام حسين د جگړې په وروستۍ ورځ (۱۰ محرم ٦۱هـ) د کربلا په ميدان کې چې د يزيد د پوځ په وړاندې کومه وينا وکړه، هغه د فصاحت او بلاغت شاهکار دی. له نورو خبرو نه علاوه، هغه وفرمايل، «که د عیسی خر هم پاتې وای، نو ټولو عيسويانو به يې تر قيامته پالنه کړې وه. تاسې څه ډول مسلمانان او څنگه امتيان یاستئ چې د خپل رسول د لمسي وژل غواړئ.» په اصل کې که د «رسول د خره» معامله وای، نو مسلمانانو به يې هم پرستش کړی و. د رسول د لمسي د احترام لپاره خو هغوی له زړه او ځانه تيار و. خو دلته مسئله دا وه چې د رسول لمسی (امام حسين) د هغوی د سياسي حريف په حيث راپورته شوی و. او سياسي حريف هېڅ څوک هم نه ښبني، هغه که عيسوي وي يا مسلمان. هغه يزيد چې په ٦۱هـ کې يې د امام حسين د استيصال لپاره يو ظالم سردار (عبيدالله بن زياد) مقرر کړی و، همدې يزيد په **٦٣هـ** کې په مدينه باندې د برید لپاره مسلم بن عقبه واستوه او تاکيدي امر يې ورته وکړ چې د حسين د صاحبزاده علي بن حسين بن علي (۹٥-۳۸هـ) پوره خيال وساته او هېڅ ډول تکليف ورته مه رسوه. د دې وجه

دا وه چې علي بن حسين (امام زين العابدين) د کربلا له پېښې وروسته له سياست نه لاره بېله کړه او د مدينې په څنډه کې مېشت شو. د مدينې خلکو چې د هغه په لاس بيعت کول غوښتل نو هغه له بيعت نه صفا انکار وکړ. ويې ويل «زما پلار او نيکه دواړو د خلافت په معامله کې خپل سرونه بايللي دي. ايا زه هم په دې لاره کې بوخت شم او خپل ځان ورباندې ووژنم.» د کربلا د جګړې له پايته رسېدو وروسته د امام حسين... [په کتاب کې يوه پاڼه متن نشته؛ ژ]

د امام حسن په باره کې چې کوم روايتونه راځي، هغه نه يوازې سنداً ډېر قوي دي، بلکې له فطري مينې نه اخواته اشاره کوي. مثلاً انس بن مالك وايي:

**لم يكن احدً اشبه بالنبي صلى الله عليه وسلم من الحسن بن علي (رواه البخاري)**

ژباړه: حسن بني علي نه ډېر هېڅ شخص نبي صلى الله عليه وسلم ته ورته نه و.

له ظاهري او طبيعي مشابهت سربېره دا هم واقعيت دی چې په صحيح رواياتو کې د امام حسين لپاره د هېڅ تاريخي کردار يادونه نه ليدل کېږي. خو په بله خوا کې دا ثابته ده چې نبي صلى الله عليه وسلم د امام حسن په باره کې د يوه ستر کردار د ادا کولو وړاندوينه فرمايلې وه:

**عن ابي بكرة، قال: رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم علي المنبر والحسنُ ابن علي الى جنبه وهو يقبل على الناس مرةً وعليه أخرى. ويقول: ان ابنى هذا سيدٌ، ولعل الله ان يصلح به بين فئتين عظيمتين من المسلمين (رواه البخاري)**

ژباړه: ابوبکره وايي، ما رسول الله صلی الله علیه وسلم په منبر لیدلی چې حسن بن علي يې په خوا کې و. رسول الله به يو ځل خلکو ته متوجه شو، بيا به يې حسن ته وکتل. او فرمايل به يې، دا زما بچی سردار دی، و دې شي چې الله د ده په لاس د مسلمانانو د دوو لويو ډلو ترمنځ سوله وکړي.

د رسول الله دغه وړاندوينه د امام حسن په ژوند کې ټکي په ټکي سمه ثابته شوه. له ده سره په ۴۰هـ کې بيعت په داسې حال کې وشو چې د مسلمانانو خپلمنځي جگړې پای ته نه وې رسېدلې. ځينې خلك د بنو اميه تر بيرغ لاندې راټول وو، ځينې د بنو هاشم ——— په دواړو کې يوه لوري هم نه بل لوری ختمولی شوی او نه ماتې منلو ته اماده وو. ده چې بيعت واخيست نو له خلکو نه يې دا اقرار هم واخيست چې «زه چې له چاسره جنگيږم، تاسې به هغه سره جنگيږئ، زه چې له چاسره سوله کوم، تاسې به هغه سره سوله کوئ.» د حضرت علي له شهادت وروسته د هغه د صاحبزاده په لاس بيعت کېدل د بنو اميه د مشر معاويه بن ابي سفيان لپاره د نوې ننگونې په معنا و. نوموړی له خپلې پلازمېنې دمشق نه له شپېته زره لښکر سره د کوفې په لور وخوځېد، چېرته چې حسن بن علي مېشت و. امام حسن چې له کوفې

ووت، نو شاوخوا همدومره پوځي ځواك ورسره و. د يوه شاهد په ټکو کې د غرونو غونډې لښکر «کتائب امثال الجبال» ورسره و. دې خلکو د ده د پلار علي بن ابي طالب په لاس بيعت کړی و. او له مرګ او وژلو نه په کم هېڅ شي هم راضي نه وو.

د دواړو خواوو لښکرې مداين ته نيږدې راټولې شوې. معاويه بن ابي سفيان د امام حسن په نوم ليك واستوه چې له جګړې نه سوله بهتره ده. مناسبه ده چې تاسې ما خليفه ومنئ او له ماسره بيعت وکړئ. امام حسن له غور او فکر نه وروسته د هغه وړانديز قبول کړ. له شپږمياشتې خلافت وروسته په ۴۱هـ کې يې د امير معاويه په لاس بيعت وکړ او خلافت يې هغه ته وسپاره.

د امام حسن د جذباتي ملاتړو لپاره دا «ذلت» د زغملو وړ نه و. هغوی د دې پرېکړې په خلاف ډېره غوغا او چيغې وکړې. امام حسن يې عار المسلمين (د مسلمانانو لپاره شرم) او مذلّ المؤمنين (او د مؤمنانو خواروونکی) وباله. حتی کافر يې ورته وويل، د امام حسن جامې يې وشيرلې، او د توري ګوزار يې ورباندې وکړ. خو امام حسن په هېڅ حال کې هم د جګړه‌ييز سياست لپاره تيار نه شو. هغه وفرمايل: «که خلافت د معاويه حق و نو هغه ته ورسېد او که زما حق و، نو ما هغه ته وبښه.»

له سولې وروسته امير معاويه د امام حسن لپاره سل زره درهمه کلنۍ وظيفه مقرره کړه. (**حافظ ذهبي، العبر، جلد ۱، صفحه ۴۸**)

د یوه شخص د شاتګګ پایله دا شوه چې د مسلمانانو خپلمنځي اختلاف په خپلمنځي اجتماعیت بدل شو. ۴۱هـ چې په اسلامي تاریخ کې به، له صفین او جمل نه وروسته، دریمه تر ټولو ستره د خپلمنځي خونریزۍ عنوان ګرځېدلی و، د عام الجماعت په نوم وبلل شو. او د اختلاف په ځای د اتحاد په کال بدل شو. د مسلمانان ځواک چې په خپلمنځي جګړو کې به برباد شوی و، د اسلام په خپراوي او پراختیا کې مصرف شو ـــــ شاتګګ تر ټولو لویه بهادري ده. خو ډېر کم خلک دي چې د دغې زړورتیا لپاره دې خپل ځان راضي کړای شي.

د پیغمبر علیه السلام له مړینې (۱۱هـ) وروسته شل کاله د اسلامي فتوحاتو لړۍ روانه وه. هره میاشت به یوه نه یوه لویه سیمه فتحه شوې وه. خو د دریم خلیفه په وروستۍ زمانه کې چې خپلمنځي جګړې پیل شوې، نو هغوی شاوخوا لس کاله د فتوحاتو لړۍ ودروله. دا یو تاریخي حقیقت دی چې دغه بنده دروازه چې کوم شخص وازه کړه، هغه همدا امام حسن و. په ۴۱هـ کې له خلافت نه تېرېدل په ظاهر کې خو د عمل له میدان نه د ستنېدو پرېکړه وه. مګر په حقیقت کې په ډېر بهتر ډول د عمل میدان ته ورتګ و. دا اقدام د مسلمانانو ځواک له خپلمنځي نښتو او جګړو څخه په خارجي ډګر کې د هلو ځلو په لور اړول و. دې ستنېدنې د اسلام په تاریخ کې د بریا نوي امکانات پرانیستل. که امام حسن په خلافت ټینګار کړی وای، نو عجبه نه ده چې اسلامي تاریخ به په لومړۍ هجري پیړۍ کې پای ته رسېدلی و.

مسلمانان به په خپلو کې په جګړو کې له منځه تللي وو او قیصران او کسرا او یهود او منافقین به بېرته د همېشه لپاره د اسلام د استیصال لپاره راژوندي شوي وو. که په حسنینو کې د اسلامي تاریخ د اتل انتخابولو ته اړتیا شي، نو بې له شکه دغه اتل به امام حسن وي.

## د پیغمبر لارښوونې

د امام حسن دا مسلک کوم تصادفي یا طبیعي څه نه و. بلکې د شریعت په واضحو تعلیماتو بنا و. نبي صلی الله علیه وسلم ویلي و چې له ما وروسته به د مسلمانانو په سیاست کې انحرافات راځي، همدا وه چې په خورا روښانه ټکو کې یې امر کړی و چې د «اصلاح» په نوم یو بل سره په جګړو مه سر کېږئ بلکې د خپلو شخصي مسؤلیتونو په ترسره کولو کې بوخت اوسئ. د حدیثو په کتابونو کې د کتاب الفتن په عنوان کې په کثرت سره دغه ډول روایتونه راغلي دي.

حضرت حذیفه وایي، له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه به خلکو د «خیر» په باره کې پوښتنه کوله. ما به ورنه د «شر» په باره کې پوښتنه کوله، له دې اندېښنې چې هسې نه زه په کې مبتلا شم. ما وپوښتل، موږ په جاهلیت او شر کې وو. بیا الله موږ ته خیر راکړ. ایا له دې خیر وروسته بیا شر شته **(فهل بعدا هذا الخیر من شر)**. رسول الله وفرمایل هو:

**یکون بعدي ائمة لایهتدون بهدای ولا یستنون بسنتی. وسیقوم فیهم رجالٌ. قلوبهم قلوب الشیاطین في جثمان انس. قال حذیفة قلتُ: کیف اصنع یا رسول الله ان**

**ادركت ذلک. قال تسمعُ و تطيعُ الامير و ان ضُرِبَ ظهرک و اُخِذَ مالک، فاسمع واطع. (رواه مسلم)**

ژباړه: له ماوروسته به داسې واکمن وي چې د هدايت لاره به نه غوره کوي او زما په سنتو به نه ځي. په هغوی کې به داسې خلك راپورته شي چې په ظاهر کې به انسانان وي خو په جسمونو کې به يې شيطاني زړونه وي. حذيفه وايي چې ما وپوښتل: اې د خدای رسوله! که زه دا زمانه ومومم، نو څه وکړم؟ رسول الله وفرمايل: د امير واوره او اطاعت يې وکړه. ان که ستا په ملا وار وکړي او مال دې درنه وتروړل شي، په هر حال کې يې واوره او اطاعت يې وکړه.

په يوه بل روايت کې دا هم الفاظ هم دي: **والا نمت و انت عاضٌ على جزل شجرة** (که نه وي ومره په داسې حال کې چې د ونې تنه دې نيولې وي.)

له ابو هريرة نه روايت دی چې نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

**ويلٌ للعرب من شر قد اقترب، افلح من كف يده (رواه ابو داؤد)**

ژباړه: تباهي ده عربو لره له هغه شر نه چې ورته رانيږدې شو. هغه شخص به په کې بريالی وي چې خپل لاس يې ونيوه.

له ابو موسى نه روايت دی چې نبي صلى الله عليه وسلم له راتلونکې فتنې خبرداری راکړ. خلکو وپوښتل: نو موږ ته مو څه حکم دی؟ (**فما تأمرنا**) رسول الله وفرمايل:

**كسروا فيها قسيَّكم و قطعوا فيها اوتاركم واضربوا سيوفكم بالحجارة. الزموا فيها اجواف بيوتكم. فان دخل على احد منكم فليكن كخيرا بنى آدم. (رواه ابو داؤد)**

ژباړه: په دې زمانه کې خپلې لیندۍ ماتې کړئ، د خپلو غشیو تارونه مو وشکوئ، خپلې تورې مو په تیږې ووهئ. او په کورونو کې ناست اوسئ. که مو څوک د وهلو لپاره په کور درننوځي، نو تاسې د ادم له دوو زامنو څخه یې هغه بهتر زوی شئ. (ووژل شئ خو وژنئ یې مه.)

همدا هدایت و چې دریم خلیفه عثمان بن عفان عمل وربانديې وکړ. دی په ۲۴هـ کې خلیفه وټاکل شو او ۳۵هـ کې مسلمانو بلواګرو شهید کړ، په دې وخت کې د ده عمر ۸۲ کاله و. دغه مهال د مدینې د وفادارو مسلمانانو یوه ډله له ده سره په کور کې حاضره وه او د بلواګرو د مخنیوي لپاره جګړې ته اماده وه، خو دریم خلیفه په قسمونو هغوی په خپلو مسلمانو ورونو له برید کولو څخه منع کړل. دی په خپل کور کې د قرآن کریم تلاوت ته ناست و چې خلکو د تورو او نېزو په ګوزارونو له منځه یووړ.

د دریم خلیفه په دې ډول پټه خوله قتل کېدل تصادف یا ارادي عمل نه و. دا په اصل کې د شریعت حکم ته غاړه ایښودل و. د شریعت له مخې له خپل لوري د تجاوز پیلول د مؤمن بنده لپاره په هېڅ حال کې هم روا نه ده. مسلمان د دعوت او نصحیت له لارې عمل کوي نه د قتال له لارې. له هغه وروسته که له مقابل لوري تجاوز پیل شي، نو دوه

حالتونه دي. که تجاوز د کفارو له لوري شوی وي، نو د ځانګړو شرايطو له مخې د هغه د دفاع امر دی (بقره: ۱۹۰) خو که تجاوز د مسلمان له لوري پيل شوی وي، نو په داسې حالت کې حکم دا دی چې د دفاع په توګه دې هم په خپل ديني ورور وار نه کېږي:

**لَئِن بَسَطتَ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِي مَا أَنَاْ بِبَاسِطٍ يَدِيَ إِلَيْكَ لأَقْتُلَكَ (مائده: ۲۸)**

ژباړه: نو که ماته دې لاس راوغځاوه چې ومې وژنې، زه خو مې لاس نه درغځوم چې تا ووژنم.[1]

دريم خليفه په همدې امر عمل وکړ او له خپلو مسلمانو بريدګرو سره يې هېڅ جګړه ونه کړه او په پټه خوله شهيد شو. دی د آدم په دوو زامنو کې هغه بهترين زوی يې شو. خو عجيبه خبره ده چې کوم خليفه د شريعت د اصولو دومره ستر عملي مثال قايم کړی و، د هغه د وينې د انتقام لپاره، له هغه نه وروسته، مسلمانان پنځه کاله (۴۰- ۳۵هـ) له يو بل سره لاس و ګرېوان و. يوازې د عثمان د خون په نوم سل زره مسلمانان پخپله د مسلمانانو تورو ذبحه کړل. د دې وينې او وژنې

[1] په انفرادي حالاتو کې د خپل معلوم حق د خونديتوب لپاره که يو مسلمان له بل مسلمان سره جګړه وکړي، نو دا کار ورته روا دی، په دې شرط چې دا انديښنه نه وي چې له دې اقدام نه به کوم اجتماعي فساد پيدا شي. **عن عبدالله بن عمرو بن العاص، قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من قتل دون ماله فهو شهيد (متفق عليه)** ترجمه: څوک چې د خپل مال په ژغورلو کې ووژل شو، شهيد دی.

باوجود لا هم د عثمان د قاتلینو مسئله د خدای په نزد د سپینېدو لپاره پاتې ده.

نبي صلی الله علیه وسلم پاسنۍ لاربښوونه د دې اندېښنې له مخې کړې وه چې له هغه مبارك وروسته به د مسلمانانو په سیاست کې انحراف رامنځته کېږي. په دې وخت کې به د خلکو دیني جذبه هغوی د «سیاست د اصلاح» لپاره خروج (بغاوت) ته لمسوي. رسول الله مخکې له مخکې خلك منع کړل چې دغه ډول پاڅون هېڅ کله ونه کړي. له خپلو واکمنو سره د معرکو په ځای هغوی ته نصیحت وکړئ. که په دې هم اصلاح نه شي، نو چوپتیا غوره کړئ او د هغوی په حق کې له الله نه په دعا غوښتلو قناعت وکړئ. د دې تاکید وجه دا وه چې دغه ډول بغاوت د جوړ حکومت په خلاف د حق له بیرغ سره راپورته کېدل د فساد له زیاتولو پرته بلې هېڅ نتیجې ته هم نه رسېږي:

**عن جریر بن عبدالله قال قال لي رسول الله صلی الله علیه وسلم في حجة الوداع: استنصت الناس، ثم قال: لا ترجعوا بعدي كفارا يضرب بعضكم رقاب بعض (متفق علیه)**

ژباړه: حضرت جریر بن عبدالله وایي چې نبي صلی الله علیه وسلم د حجة الوداع په ورځ ماته وویل: «خلك غلي كړه.» بیا یې وفرمایل: له ما وروسته مه کافران کېږئ چې په خپلو کې د یو بل غاړې ووهئ.

د همدې لاربښوونو پایله وه چې د صفین د جګړې (۳۶هـ) په وخت کې لسګونه زره صحابه موجود وو. خو د مسلمانانو په دې خپلمنځي

جګړه کې عملاً برخه اخیستونکي صحابه ډېر په مشکل سره فقط ديرش تنه وو. (ابن تیمیه، منهاج السنة، جلد ۳، صفحه ۸۶)

د حدیثو په کتابونو کې د فتنې تر څپرکو لاندې په کثرت سره داسې روایتونه راغلي دي چې په غیر مشتبه ډول دغه خبره په ډاګه کوي. د همدې واضحو لارښوونو په اساس وروسته په فقه کې دا مسئله وضع شوه چې د حاکم سلطان په خلاف خروج (بغاوت) روا نه دی، ځکه له دې نه په امت کې انتشار او خپلمنځي وینه او وژنه رامنځته کېږي.

دلته به د همدې اړوند څو نور روایتونه هم د نمونې په ډول راوړو:

**عن عوف بن مالک رضي اللهعنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: خیار ائمتکم الذین تحبونهم ویحبونکم، و تصلون علیهم و یصلون علیکم و شرار ائمتکم الذین تبغضونهم و یبغضونکم، و تلعنونهم و یلعنونکم. قال: قلنا یا رسول الله افلاننابذهم، قال: لاما اقاموا فیکم الصلاة (رواه مسلم)**

ژباړه: عوف بن مالك وايي، ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اورېدلي دي چې «ستاسې غوره واکمن هغه دي چې تاسې هغوی سره مینه وکړئ او هغوی تاسې سره مینه وکړي. تاسې د هغوی لپاره دعا وکړئ، هغوی ستاسې لپاره دعا وکړي. خو ستاسې بد واکمن هغه دي چې تاسې له هغوی نه کرکه وکړئ، هغوی له تاسې کرکه ولري. تاسې په هغوی لعنت وکړئ، هغوی په تاسې لعنت وکړي. موږ وویل، اې د خدای رسوله! موږ ورسره ونه جنګېږو؟ ویې فرمایل: نه، تر څو چې هغوی په تاسې کې لمونځ ترسره کوي.

**عن ابي هنيدة وائل بن حجر رضي الله عنه قال: سأل سلمةُ بن يزيد الجعفي رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال يا نبي الله ارأيت ان قامت علينا امراء يسألونا حقهم ويمنعونا حقّنا فما تأمرنا، فاعرض عنه. ثم سأله فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم، اسمعوا واطيعوا فانما عليهم ما حمّلوا وعليكم ما حُملتم (رواه مسلم)**

ژباړه: وائل بن حجر وايي چې سلمه بن يزيد له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه وپوښتل، اې د خدای رسوله! که زموږ حاکمان داسې وي چې موږ ورنه خپل حق وغواړو او هغوی زموږ حق رانه کړي، نو موږ ته څه هدايت راکوئ. رسول الله خپل مخ واړاوه. هغه بيا پوښتنه وکړه. رسول الله وويل: خبره يې واوره او اطاعت يې وکړه. هغوی چې څه کوي، د هغه مسؤل هغوی دي؛ ته چې څه کوې، د هغه مسؤل به ته يې.

**عن ابن عباس رضي الله عنهما ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من كره من اميره شيئا فليصبر فانه من خرج من السلطان شبرا مات ميتة جاهليةً (متفق عليه)**

ژباړه: له عبدالله بن عباس نه روايت دی چې نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل، د چا چې د خپل امير کومه خبره خوښه نه وي، نو پکار ده چې صبر وکړي. که دی د هغه له اطاعت نه يوه لوېشت هم ووت، د جاهليت په مرګ ومړ.[2]

[2] **من خرج من السلطان شبرا مات ميتة جاهلية** اور **من شذ شذ في النار** او داسې نور روايتونه په سياسي شذوذ پورې تعلق لري. د دې معنا دا ده چې په امت کې چې کوم سياسي نظام بالفعل حاکم وي، د هغه اطاعت لازم دی. له هغه نه سياسي

**عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: انها ستكون بعدي اثرةٌ واموزٌ تنكرونها. قالوا يارسول الله كيف تامرمن ادرک منا ذلک، قال:تودون الحق الذي عليكم وتسألون الله الذي لكم (متفق عليه)**

ژباړه: عبدالله بن مسعود وايي چې نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: له ما وروسته به خودغرضي او بې انصافي وي او داسې خبرې به وي چې تاسې به يې نه خوښوئ. خلكو وپوښتل: اې د خدای رسوله! نو تاسې موږ ته څه امر کوئ؟ رسول الله وفرمايل: په تاسې چې کوم حق دی، هغه په ځای کړئ. او ستاسې چې کوم حق دی، هغه له خدايه وغواړئ.

د پيغمبر عليه السلام دا امر چې ستاسې واکمن چې تر څو په تاسې کې د لمانځه اهتمام کوي، له هغه سره مه جنګیږئ، د دې مطلب په اصل کې دا دی چې هغوی سره هېڅ کله جګړه مه کوئ. ځکه داسې هېڅ مسلمان حاکم هم نه شي پيدا کېدی چې خلك دې په «لمانځه» ورسره راضي وي، او دی دې بيا هم د دوی جوماتونه ور ړنګ کړي او رکوع او سجدې ته دې يې پرې نه ږدي ——— ټول مسلمان واکمن چې موږ د «ظالم» په خانه کې درولي دي، هغوی هماغه وخت ظالمان شوي دي چې اقتدار يې ننګول شوی دی. او د «ظلم» دغه

بېلتون ناروا دی. ځکه دغه ډول جلاوالی، هغه که د اصلاح په جذبه هم وي، يوازې فساد او ورانی زياتوي او د «حرث او نسل» د هلاکت سبب ګرځي.

ډول دومره عام دی چې د هر واکمن په نزد موندل کېږي. هغه که د سیاسي ادارې واکمن وي یا د غیرسیاسي ادارې.

بله خبره دا ده چې د دې هدایت هدف دا نه دی چې له امت نه د «ظالمو واکمنو بې ژبې ولس» جوړ کړي. بلکې د لا ستر او ژور کار لاره ښودل دي. دا لارښوونه د امت په وګړو کې د منفي ذهنیت په ځای د مثبت ذهنیت روزنه ده. د هغوی هڅې له ویجاړې نه د رغونې په برخه کې لګول دي. دا هدایت د هغه ستر حقیقت په ګوته کول دي چې په ژوند کې له مخامخ اقدام نه ډېر ګټور کارونه هغه دي چې په نامستقیمو ډګرونو کې ترسره کېږي. هغه چې له ظاهري غور او پور نه خالي وي، خو دومره اغېزناک وي چې بلاخره مخالف لوری له هغې مځکې نه محرومو ي چې دی وربانده ولاړ وي ــــــ له الله نه دعا غوښتل، د یو بل لپاره د مینې او خیرخواهي فضا پیدا کول، د نورو په خلاف د پاڅون په ځای په خپلو مسؤلیتونو توجه کول، د خپلو حقونو په تلف کېدو قناعت کول او د نورو حقونه په ځای کول، د سیاسي مبارزو لاره پرېښودل او په خاموشۍ کې د نصیحت له لارې انساني فطرت راویښول، له واکمنې طبقې سره د نښتې په ځای په ولس کې خپلې ریښې ټینګول، د خپل امکان په دایره کې خپلو رغنیزو هڅو ته دوام ورکول، دا هغه شیان دي چې په خپل ځان کې خورا اېل کوونکې امکانات لري. او که یوه ډله په سمه توګه دا لاره خپله کړي، نو هېڅ څوک یې د بریالیتوب مخه نه شي نیولی.

## سیاسي شخړې بې ګټې

د لومړۍ هجري پېړۍ له تجربې نه تر وروستي بریده دا ثابته شوې ده چې د جوړ سیاسي نظام په خلاف سنګر جوړول، که هر څومره په نېک نیت شوی وي، یوازې په فساد کې د زیاتونې سبب ګرځي. بلکې نوي نوي، مسایل زېږوي او معامله نوره هم ورسره پېچلې کېږي. د عثماني سیاست د اصلاح تحریک د قریشو د قبیلې د دوو ښاخونو، بنو امیه او بنو هاشم، پخوانۍ کورنۍ جګړه په نوې او لا شدیده بڼه راژوندۍ کړه. دې تحریک نوي مسلمان شوي یهودي عبدالله بن سبا ته هغه سازګاره مځکه ورکړه چې د هغې په استفاده یې د «وصي» عقیده ایجاده کړه او د خلافت د استحقاق له سیاسي مسئلې نه یې د اعتقاد مسئله جوړه کړه. پایله یې دا شوه چې مسلمانان پرلپسې په دوو متحاربو ډلو (شیعه او سني) باندې ووېشل شوو. ځېل شویو عصبیتونو بیا فرصت وموندہ چې د «نظریاتي» نعرو په سیوري کې د یو بل په خلاف پاڅون وکولی شي. عرب قوم، چې عجمیانو ته یې په ټیټه سترګه کتل، د امیر معاویه تر بیرغ لاندې راټول شوو. عجمي پرګنې، چې د عربو له اقتدار نه متنفرې وې، د علي بن ابي طالب په لښکر کې راټولې شوې. د سیاسي اصلاح تحریک یوازې په سیاسي فساد پای ته ورسېد. په ټولو اسلامي هېوادونو کې یې انارکي وزېږوله او دریم خلیفه یې شهید کړ. خو یوازې د هغه په قتل معامله پای ته نه شوی رسېدلی. اوس د عمل او عکس العمل لایتناهي سلسله پیل شوه چې د

امیرمعاویه له لنډمهالې وقفې (۶۰- ۴۱هـ) پرته سلگونه کاله روانه وه. زرگونه قیمتي سرونه په خورا بې دردۍ وشیندل شوو. او اصلي مسئله (په خلافت کې د وراني مسئله یا د عثمان د خون قصاص) بیا هم په هماغه ټکي کې حل کېدو ته پاتې شوه چېرته چې د ټولو مسایلو حل کېدل ټاکلي دي.

دا خبره هم باید په یاد ولرو چې د حکومت لپاره چې کومه جگړه وچېږل شي، هغه نه په کامیابي پای مومي او نه په ناکامي. د الف ډلې او ب ډلې جگړه چې ختمه شي، نو پخپله په هغه ډله کې دوه ډلې رامنځته شي چې د بریا له لارې راپورته شوې وي. په بنو هاشم او بنو امیه کې د خلافت د ترلاسي جگړه په ۳۵هـ کې پیل شوه او شاوخوا سل کاله یې په مختلفو شکلونو دوام ومونډ. په دې ټوله موده کې د بنو امیه اقتدار حاکم و. په ۱۲۳هـ کې بنوهاشم (بنوعباس) د ایرانیانو په مرسته د بنو امیه د اقتدار په ختمولو بریالي شول. خو اوس بنو هاشم، په عباسیانو او علویانو ووېشل شوو او پخپله د یو بل په خلاف په جنگونو سر شول. محمد بن عبدالله بن حسن مثنی بن حسن بن علي بن ابي طالب بن عبدالمطلب چې د محمد مهدي نفس ذکیه (مړ ۱۴۵هـ) په نوم مشهور شو، د عباسي خلیفه ابوجعفر عبدالله منصور بن محمد بن علي بن عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب سیاسي مخالف و. هغه له خپلو ملگرو سره لاس یو کړ او د ابو جعفر منصور (۱۵۸- ۱۰۱هـ) په خلاف یې د «صالح نظام» تحریک وچلاوه. په دې سیالۍ

کې منصور بریالی شو او علویان یې له منځه یووړل. دا دواړه له هاشمي کورنۍ څخه وو. یو د ابوطالب بن عبدالمطلب اولاد و، دا بل د عباس بن عبدالمطلب اولاده. تر څو چې له اقتدار نه د بنو امیه د پرځولو سوال و، دواړو ګډ سیاسي سنګر جوړ کړی و. خو کله چې حکومت بدل شو، دواړه د یو بل رقیبان شول. دا رقابت تر هغو پورې ختم نه شو، چې یو بل یې سره ونه ټکول.

د عثمان له شهادت وروسته تر ټولو ړومبی ام المؤمنین عائشه رضي الله عنها (م ۵۸هـ) د عثمان قاتلانو ته د سزا ورکولو له غوښتنې سره راپورته شوه. زبیر بن العوام، طلحه بن زبیر او ډېر نور خلك هم له هغې سره ملګري شول. دې پاځون مسلمانان په دوو متحاربو ډلو وویشل. د عائشې تر بیرغ لاندې ۳۰ زره کسان وو او له علي بن ابي طالب سره ۲۰ زره. بصرې ته نیږدې جګړه وشوه چې د جمل د جنګ (۳۶هـ) په نوم مشهوره ده. په دې جګړه کې ۱۰زره مسلمانان د نورو مسلمانانو په توره ذبحه شول. طلحه او زبیر هم له دې جګړې نه د بېرته ستنېدو په وخت په لاره کې ختم شوو. طلحه د ټپونو له لاسه. او زبیر په وادي السباع مقام کې یوه کس د لمانځه په حالت کې وواژه.

له دې وروسته دویمه مرحله پیل شوه. معاویه بن ابي سفیان، چې هغه وخت د شام والي و، هغه د دې تحریك بیرغ ور اوچت کړ. د علي بن ابي طالب له لوري د بیعت مطالبه وه، د معاویه بن ابي سفیان له لوري د قصاص مطالبه. یو ځل بیا په شام کې د صفین په سیمه کې

لا شدیده جګړه (۳۷هـ) وشوه. شاوخوا د ۷۰ زره مسلمانانو غاړې پخپله د مسلمانانو په لاس ووهل شوې. په دې ستر هلاکت سربېره چې مسئله حل نه شوه، نو د تحکیم (دومة الجندل) تګلاره غوره شوه. خو اصلي مسئله بیا هم په خپل ځای پاتې شوه. البته عمرو بن العاص چې په دې موقع کې کوم کردار ترسره کړ، د هغې اضافي نقصان دا شو چې چې د انسان د قتلولو په خوا کې د اعتماد د قتلولو دود هم په اسلامي ټولنه کې رامنځته شو. د همدې بې اعتمادي فضا وه چې د خوارجو فرقه یې وزېږوله، چې د نهروان په علاقه (۳۷هـ) کې یې له علي بن ابي طالب سره جګړه وکړه او شاوخوا ۱۰ زره مسلمانان په کې ووژل شوو. د دوی بې اعتمادي دومره حد ته زیاته شوه چې امیرمعاویه، عمرو بن العاص، او علي بن ابي طالب یې ټول په یوه شان واجب القتل وګرځول.[3]

---

[3] د صحابوو خپلمنځي اختلاف د نن ورځې د خلکو په اختلاف باید قیاس نه شي. دا د ډېرو لوړو خلکو اختلاف و چې د اختلاف په وخت کې یې هم خپله لوړتیا ساتلې وه.

اسحق بن راهویه په خپل سند روایت کوي:

سمع علي یوم الجمل و یوم الصفین رجلا یغلوا في القول، فقال لا تقولوا الا خیرا. انماهم قوم زعموا انا بغینا علیهم، وزعمنا انهم بغوا علینا فقاتلناهم. (ابن تیمیه، منهاج السنة، جلد ۳، صفحه ٦١)

ژباړه: علي د جمل او صفین په باره کې له یوه سړي واورېدل چې ډېره سخته غږېدا یې کوله. هغه ورته وفرمایل: د خیر له خبرې پرته نور هېڅ مه وایه. په اصل

د عثمان د خون په نوم له پنځه کلني (۴۰- ۳۵هـ) کورنۍ جګړې او بې حسابه تاوانونو وروسته عملاً چې څه وشول، هغه دا چې د امير معاويه سياست مستحکم شو. زياتره اسلامي هېوادونه يمن، حجاز، شام، فلسطين، مصر، ټول د امير معاويه تر امر لاندې راغلل. د علي بن ابي طالب له شهادت (۴۰هـ) وروسته د امام حسن له لوري له خلافت نه تېرېدا هغه سره لا ډېره مرسته وکړه او ۲۰ کاله (۶۰- ۴۰هـ) يې په ټوله اسلامي نړۍ بې شخړې حکومتولي وکړه.

له امير معاويه وروسته مسئله يو ځل بيا راپورته شوه. امير معاويه خپل زوی يزيد وليعهد وټاکلی و او د هغه د خلافت لپاره يې بيعت اخيستی و. په خلکو کې دا احساس غلی و چې امير معاويه چې د خلافت د انتخاب مسئله له شورا پرته ترسره کړه، دا يې تېروتنه وکړه. د خلافت په ګدۍ باندې د يزيد له ناستې وروسته ځينو خلکو دا خبره راواخيسته چې يزيد د دې منصب اهليت نه لري. په اسلامي ټولنه کې په دې

---

کې هغوی دا ګڼلې ده چې مونږ د هغوی په خلاف بغاوت کړی، او مونږ فکر کوو چې هغوی زمونږ په خلاف بغاوت کړی. په همدې وجه له هغوی سره جنګېږو.

زبير بن العوام د جمل په جګړه کې د حضرت علي خلاف و. په جګړه کې حضرت علي سوبمن شو. حضرت زبير د خپل اس مخ بلې خواته کړ او روان شو. د بصرې يو شخص په هغه پسې ورغی او په وادي السباع کې يې د لمانځه په حالت کې وواژه. له هغه وروسته حضرت علي له تورې سره په هغه پسې ورغی او دربان ته يې وويل چې د زبير د قاتل لپاره اجازه ترلاسه کړه. هغه فکر کاوه چې علي به د خپل حريف په وژل کېدو خوشاله شي او هغه ته به انعام ورکړي. خو هغه وفرمايل: د ابن صفيه (زبير) قاتل ته د دوزخ زېری ورکړه.

وخت کې د عبدالله بن عمر، عبدالله بن عباس، عبدالله بن زبیر، حسین بن علي او عبدالرحمن بن ابي بکر په څېر جلیل القدر خلك موجود وو. همدا وه چې یوې طبقې د یزید په خلافت باندې له بیعت کولو نه انکار وکړ. د دې نوي تحریک دوه خاص مشران و. یو عبدالله بن زبیر، بل حسین بن علي.

خو د صحابه کرامو اکثریت یا په دې معامله کې غلی و یا یې خلکو ته دا نصیحت کاوه چې د یزید خلافت ومنئ تر څو اضافي وینې او وژنې پېښې نه شي. حضرت عبدالله بن عباس په مکه کې و چې د امیر معاویه د مرگ خبر راغی. خلك د هغه په تاثر باندې د پوهېدو لپاره هغه ته راټول شول. په دې ځای کې هغه څو خبرې وکړې، چې یوه یې دا وه:

**و ان ابنه یزید لمن صالحی اهله فالزموا مجالسکم واعطوا اطاعتکم وبیعتکم. (بلاذری،انساب الاشراف،یروشلم ۱۹۴۰ ،قسم۲ ،صفحه۴)**

ژباړه: د معاویه زوی یزید د هغه له لایقو بچو څخه دی. نو تاسې په خپل ځای ناست اوسئ او خپل اطاعت او بیعت هغه ته ورکړئ.

په همدې ډول محمد بن حنفیه هم د یزید په باره کې د خیر خبره وکړه او خلك یې له بغاوت نه راوگرځول. حمید بن عبدالرحمن وایي چې د یزید د ولیعهدي په وخت کې زه حضرت بشیر رضي الله عنه ته ورغلم چې له صحابوو څخه و. هغه وفرمایل:

**يقولون انما يزيد ليس بخير اامة محمد صلى الله عليه وسلم وانا اقول ذلك. ولكن لان يجمع الله امة محمد احب الى من ان يفترق.**

ژباړه: خلك وايي چې يزيد د محمد ص په امت كې تر ټولو غوره نه دى. زه هم همدا وايم. خو د محمد ص د امت اتحاد راته د هغه له اختلاف نه ډېر خوښ دى.

دا ليدلورى په اصل كې د نبي صلى الله عليه وسلم په دې واضح هدايت ولاړ و چې له واكمنو سره سياسي اخ و ډب مه كوئ. او د خپلې اصلاحي جذبې د عملي كولو لپاره د كار بل (غيرسياسي) ډگر ولټوئ. خو اصلاحي ليدلوري، د سياسي ليدلوري په پرتله، همېشه د خلكو كمه توجه خپله كړې ده. زياتره خلك د سياسي معركو په لاره ووتل او په پايله كې يې د امام حسين او عبدالله بن زبير په څېر د اعلى صلاحيتونو انسانان او ورسره بې شمېره نور مسلمانان د خپلو ورونو په تورو ووژل شوو. يزيد چې كله خبر شو چې د مكې او مدينې خلك باغيان شوي دي نو هغه په حرمينو هم يرغلونه وكړل. د خانه كعبې دېوالونه ونړېدل ـــــــ په دې ټولو قربانيو سربېره اصلي مسئله په خپل ځاى پاتې شوه. د يزيد حكومت د مرگ له پرښتې پرته هيچا ونه شو پرځولى.

د لومړۍ هجري پېړۍ د دې كورنيو جگړو نقصان دا شو چې لوى، لوى صحابه چې رستم او اسفنديار يې لاندې كول او د سيلاب غوندې يې اسلام په مخ ورسره ووړ، هغوى په اجتماعي ژوند كې سره بېل

شول. سعد بن ابي وقاص، د ایران فاتح له ښارونو نه لرې ولاړ او اوښان او اوزې به یې څرول. عبدالله بن عمر چې د خپلو اوصافو له مخې عمر ثاني کېدلی شوی، له خپلمنځي جګړو نه زړه توری شو او ګوښه نشیني یې غوره کړه. او داسې نور. خو د جګړې له ډګر نه د دوی واپسي مازې د منفي نوعیت نه وه. یو مثبت اړخ یې هم درلود. اوس دوی د تعلیم او دعوت په فعالیتونو کې سرګرم شول. احادیث روایت کول، د اسلامي شریعت په حقیقت خلك پوهول او له نبوي سیرت نه د خلکو خبرول د دوی بوختیا وګرځېده. همدا هغه زمانه ده چې د حدیث او سیرت او اسلامي تاریخ ذخیره راټوله شوه. د جګړې په میدان کې کارنامې ترسره کوونکو د درس په میدان کې د ځان لپاره د اسلامي خدمت کار ومونده.[4]

---

[4] تر کومه چې د حاکم د خپل مسؤلیت خبره ده، له نبي صلی الله علیه وسلم نه ډېر سخت تنبیهات نقل شوي دي.

**مامن احدمن امتی ولی من امر المسلمین شیئا لم یحفظهم بما یحفظ به نفسه واهله الا لم یجد رائحه الجنة (المعجم الصغیر للطبراني)**

ژباړه: زما په امت کې چې هر څوك د مسلمانان د چارو مسؤل وي، بیا د هغوی داسې حفاظت ونه کړي په څه ډول چې د ځان او خپلې کورنۍ حفاظت کوي، هغه به د جنت بوی هم ونه ګوري.

دا امر د امیر لپاره دی. خو تر کومه چې د مامور خبره ده، د هغه فرض همدا دی چې په هر حال کې د خپل امیر اطاعت وکړي، که یې امیر خوښ وي یا نه. د نبي صلی الله علیه وسلم ارشاد دی: **الجهاد واجب علیکم مع کل امیر برأ کان او فاجرا وان عمل**

**د يزيد وليعهدي**

د معاويه بن ابي سفيان خپل زوی يزيد بن معاويه خپل وليعهد ټاکل لويه اختلافي مسئله پاتې شوې ده. په دې کې شک نشته چې دې ټاکنې په اسلامي تاريخ کې يوازې تراژيدي زياته کړه. خو د محتاطو شنونکو رايه دا ده چې معاويه په خپلې دې ټاکنې کې نېک نيت درلود. هغه له زړه نه دا انګېرله چې يزيد د ټولو اسلامي هېوادونو د خلافت لپاره تر ټولو ډېر وړ دی. د ابن خلدون په نزد «د معاويه په زړه کې چې د نورو په ځای د خپل زوی د وليعهد کولو داعيه پيدا شوه، د هغې وجه د امت د اتحاد او اتفاق مصلحت و.» عبدالله بن عمر چې کله په دې ټاکنه اعتراض وکړ، نو د معاويه ځواب دا و:

**اني خفت ان اذر الرعية من بعدي كالغنم المطيرة ليس لها را ع. (البداية والنهاية لابن كثير جلد ٨ صفحه ٨٠)**

ژباړه: له ماسره وېره وه چې له ځان وروسته خپل ولس د اوزو د خورې ورې رمې په څېر پرې نهږدم چې هېڅ شپون نه لري.

---

**الكبائر (ابو داؤد، مشكوة باب الامة)** امير كه ښه وي يا بد، او ان كه لوی ګناهونه هم کوي، د هغه تر امر لاندې جهاد کول په مسلمانانو فرض دی. مطلب دا دی چې د حکومتي ادارې د اصلاح په نوم سنګر مه جوړوئ. له هغه نه اخوا د دين د خپراوي او تبليغ چې کوم فرصتونه دي، په هغو کې خپل ځواکونه وکاروئ.

دغه ډول بې شمېره روایتونه راته ښيي چې معاویه په خپل انتخاب کې مخلص و. حتی دا هم رانقل شوي دي چې نوموړی د جمعې په ورځ په جومات کې په منبر ودرېد او دعا یې وکړه:

**اللهم ان کنت عهدت لیزید لما رأیت من فضله فبلغه ما املت و اعنه، و ان کنت انما حملني حب الوالد لولده و انه لیس لما صنعت به اصلا فاقبضه قبل ان یبلغ ذلک.**
**(الذهبي، تاریخ الاسلام و طبقات المشاهیر و الاعلام جلد ۲ صفحه۲٦٧)**

ژباړه: اې الله که ما د یزید فضیلت ته په کتو دی ولیعهد ټاکلی وي، نو هغه مقام ته یې ورسوه چې ما یې د ده لپاره هیله کړې ده. او مرسته ورسره وکړه. او که زه دې کار ته هغې مینې اماده کړی یم چې پلار یې له خپل زوی سره لري، نو خلافت ته له رسېدو مخکې یې روح ورنه واخله.

خو دا سوال اوس هم پاتې دی چې دی د اسلامي هېوادونو د خلافت لپاره د یوه داسې شخص په نومولو باندې څنګه مطمئن شو چې د صحابوو له ډلې یوازې د یوه مشر صحابي (مغیره بن شعبه) ملاتړ ورسره و. نور صحابه، چې هغه وخت د زرګونو په شمېر کې موجود و، یا خو له دې ټاکنې سره خلاف و یا یې د امت له تجزیې څخه د ژغورلو لپاره خاموشي غوره کړې وه. بله دا چې پخپله معاویه بن ابي سفیان په معلومه توګه یو خورا دور اندېش سړی و. د عمر فاروق رض په خبره، نوموړی د غوسې په وخت کې خندېدونکی (**من یضحک في الغضب**) سړی و. او د حیرانتیا تر کچې یې په ساړه ذهن د

پرېکړې کولو استعداد درلود. داسې مدبر د دغسې رایې په صحت ښنګه یقین وکړ چې راوروسته تاریخ یې د سموالي او پوخوالي پخلی ونه کړ.

دلته یوه بله خبره هم د پام وړ ده. په ۴۱هـ کې چې کله حسن بن علي یوه ستره سیاسي شخړه شنډه کړه او د معاویه په حق کې له خلافت نه تېر شو، نو سره له دې چې د امام حسن د وړاندیز په ډول نه، مګر پخپله امیر معاویه د عبدالله بن عامر په وړاندې په ژبه دا اقرار کړی و چې له ما نه وروسته به امام حسن خلیفه وي. ابن کثیر لیکي:

**کان معاویة لما صالح الحسن عهد للحسن بالامر من بعده فلما مات الحسن قوي امر یزید عنه معاویة ورآی انه لذلک اهلا (البدایة والنهایة، جلد۸، صفحه ۸۰)**

ژباړه: کله چې معاویه له حسن سره سوله وکړه نو له ځانه وروسته یې د خلافت د ولیعهد په حیث د حسن ټاکل منلې وه. خو کله چې حسن وفات شو، نو د یزید په لور د معاویه میلان پیاوړی شو. او فکر یې وکړ چې یزید د خلافت وړ دی.

حسن بن علي د معاویه په حق کې چې د خلافت د تېرېدو کومه بې مثاله قرباني ورکړه، دا به د هغې یوه معمولي بدله وه چې د هغه د لایق ورور حسین بن علي په حق کې یې د ولیعهدي ژمنه پوره کړې وای. خو دا خبره د معاویه په ذهن کې ځای نه شوه. او هغه په پوره اصرار او اهتمام خپل زوی یزید د خلافت د منصب لپاره ونوماوه او له خلکو نه یې بیعت ورته واخیست.

تر کومه چې د يزيد د نااهلي سوال دی، د هغه د ثابتولو لپاره دا پېښه کافي ده چې د هغه د حکومت په زمانه کې حسين بن علي ووژل شو. دا نه يوازې يو ظالمانه فعل و، بلکې له سياسي پلوه په بشپړه معنا يو بې تدبيره اقدام هم و. يزيد بايد په دې پوه وای چې د يوه ستر قلمرو د مشر په حيث د نواسه رسول وژل به خامخا عکس العمل زېږوي. همدا ده چې همداسې وشول. حتی دی دې ته مجبور شو چې په مکې او مدينې بريد وکړي چې د حرمينو شاوخوا دوه زره مسلمانان په کې ووژل شوو. او د حسين له خون وروسته د عامو مسلمانانو د وينې حلالول هم د ده لپاره اړين وګرځېدل.

بله خبره چې يزيد په بشپړ ډول ورنه بې خبره و، دا ده چې له يوه نېک انسان سره د مصالحت امکان تر وروستي وخته پورې پاتې وي. تاريخ راته وايي چې حسين سره له دې چې له مکې نه د وتلو په معامله کې د خپلو مشرانو او ملګرو اختلاف له پامه غورځولی و، او خپل وروستي انجام ته د يزيد له رسولو نه په کمه هېڅ خبره هم راضي نه و. خو کله چې کربلا ته ورسېد، نو پوه شو چې د کوفيانو په خطونو چې ده څومره بروسه کړې وه، چې له خپل اهل او عيال سره له کوره پسې ور وتلی و، هغه مازې فرېب و. نو امام حسين پرېکړه وکړه چې سياست يزيد ته وسپاري او د پټې خولې په ژوند قانع شي. په نورو ټکو کې دا چې د حسين قضيه، لږ تر لږه په وروستي پړاو کې هماغې نقطې ته ورسېده چېرته چې د معاويه او حسن قضيه رسېدلې وه. خو

معاویه یو جهان دیده سړی و، هغه په ساده کاغذ خپل لاسلیك او ټاپه ووهل او حسن بن علي ته یې واستول چې د سولې هر ډول شرطونه غواړې، په دې پاڼه یې ولیکه ـــ د دې بالعکس د حسین بن علي په دغه ډول وړاندیز د یزید کسانو حسین وواژه. سره له دې چې یزید پخپله د جګړې په میدان کې نه و. خو د امام حسین د سر په لیدو یې د هغه په قتل باندې ډېر سخت غبرګون ښکاره کړه. خو اوس یې له دې جرم نه غاړې نه شوی خلاصېدی. ځکه د واك خاوند چې خپلې شاوخوا ته کومه فضا جوړوي، ماتحت د هماغه مطابق عمل کوي.

د یزید د ولیعهدي دا پېښه راته وایي چې له اخلاص او نېك نیت سره هم یو انسان څومره لویه تېروتنه کولی شي. انسان عموما له خپلې خوښې او ناخوښې نه مغلوب (Obsessed) وي. د ده شاوخوا حالات چې په ده کې کوم مزاج وروزي، د هماغه مطابق فکر کوي. د ده فکر یو ډول مشروط شوی Conditioned Thinking وي. د ده نیت نېك وي، خو بیا هم غلطي پرېکړې ورنه کېږي. همدا وجه ده چې په اسلام کې مشورې ته خورا ډېر اهمیت ورکول شوی دی. د مشورې په ذریعه د یوه کس غلطي بل ته روښانه کېږي. او تر کومه چې د اجتماعي چارو تعلق دی، د هغه لپاره خو مشوره دومره ضرور ده څومره چې د جمعې ورځې د لمانځه لپاره د ګډ لمانځه ـــــــ معاویه بلاشبه نیك نیت درلود. خو د ده پرېکړه له متاثر ذهن نه بودېدلې پرېکړه وه چې

هغه حقایق په کې په پام کې نه وو نیول شوي چې د ده له خپل ذهن نه دباندې په بربنډ شکل کې موجود وو.

**الامراسرع‌من‌ذلک** (د پرېکړې ګړی ډېره نیږدې ده)

ویل کېږي چې امیر معاویه چې کله په مرګوني مرض مبتلا شو، نو یزید یې راوغوښت او څو نصیحتونه یې ورته وکړل، ورته ویې ویل: «زویه! ما ته له خورجینونو کشولو او سفر کولو بې نیازه کړی یې. سختۍ مې اسانې، دښمنان مې تابع او د عربو مغرورې غاړې مې نرمې کړې دي. ما ستا لپار هغه شیان برابر کړي دي چې پخوا هیچا نه دي برابر کړي. (محمد بن علي بن طباطبا، تاریخ الفخری)

په انسان چې کله یو فکر غالب شي، نو زیاتره وختونه یې هغه حقایق له سترګو پټېږي چې د ده خلاف وي. له امیر معاویه سره هم همداسې وشول. نوموړي دوه ډېر سخت حقایق له پامه وغورځول، یو دا چې په اسلام کې د خلیفه انتخاب د شورا په واک کې دی. د یوه واکمن خپل زوی خلیفه نومول د اسلام د مزاج خلاف پېښه ده چې خامخا به عکس العمل زېږوي او په دې ډول به د ده مخالف لوري بنوهاشم ته د اموي اقتدار په خلاف د خپل تحریک د راڅوندي کولو لپاره یو فکري بنیاد په لاس ورشي. همدا ده چې همداسې وشول. امیر معاویه چې له دنیا سره مخه ښه وکړه، ورسره په ټولو اسلامي هېوادونو کې د یزید په خلاف بغاوتونه پیل شول او د خلیفه په حیث یې د ژوند یوه ورځ هم په سکون تېره نه شوه.

دويمه مهمه خبره چې امير معاويه هېره کړه، هغه دا چې د کوم مرګ په غاړه چې دی ولاړ دی او خپل زوی ته وصيت کوي، د هغه زوی هم ډېر ژر هغې غاړې ته رسېدونکی دی. تاريخ راته وايي چې يزيد بن معاويه ډېر په مشکل سره د درې نيم کاله حکومت فرصت وموند. له هغه وروسته ومړ. له يزيد نه وروسته د امير معاويه لمسی معاويه بن يزيد بن معاويه (۶۴- ۳۹هـ) په تخت کېناست. خو يوازې له درې مياشتو وروسته ختم شو. د امير معاويه له مړينې وروسته له څلورو کلونو نه هم په کمه موده کې خلافت، د معاويه د زامنو او لمسيانو له لاسه ووت او د مروان بن حکم بن ابي العاص بن اميه (۶۵ – ۲هـ) کورنۍ ته انتقال شو ـــــ معاويه که د انسان دغه نامعلوم مستقبل ليدلی وای نو شايد داسې اقدام به يې نه و کړی چې مؤرخانو ته يې د دې خبرې د کولو فرصت ورکړ چې «معاويه لومړنی شخص دی چې په اسلام کې يې د قيصر او کسرا سنت رواج کړ.»

بل لوري ته د ناصالحو واکمنو په خلاف د بيرغ جګوونکو لپاره هم په دې پېښه کې لوی نصيحت دی ــــــ که انسان د صبر طريقه غوره کړي او خپل اصلاحي عمل تر ممکنه دايرې پورې محدود کړي، نو ډېر ژر به پوه شي چې د کايناتو واکمن په ډېر بهتر او بريالي ډول د هغې پېښې د رامنځته کولو لپاره تدبير ترسره کوي چې موږ يې د خپلې بې صبرۍ له لاسه يوازې په ناکامه ډول پېښول غواړو.

**پای**